**د کډوالۍ د ځانګړو ویزو (SIVs) ترلاسه کوونکو افغانانو او عراقیانو**
**د بیا مېشتېدنې په اړه تکراري پوښتل شوې پوښتنې**

**پوښتنه: زه د کډوالۍ د ځانګړې ویزې ترلاسه کوونکی افغان/ عراقی یم. ایا زه د بیا مېشتېدنې د ګټو لپاره مستحق یم؟**

ځواب: د کډوالۍ د ځانګړې ویزې ترلاسه کوونکي افغانان او عراقیان، د همغه ډول ترانسپورت او د بیا **مېشتېدنې** د مرستې، پروګرامونو او نورو ګټو ترلاسه کولو مستحق دي چې د متحده ایالتونو د کډوالو د منلو تر پروګرام لاندې منل شوي نور کډوال یې ترلاسه کوي. د متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت ، د بیا **مېشتېدنې** اداري تمویلوي څو د هرکلي او ځای پر ځای کولو پروګرام له لارې د کډوالۍ د ځانګړو ویزو ترلاسه کوونکو ته په متحده ایالتونو کې د ژوند د لومړنیو اونیو پر مهال د مدغم کېدلو لومړني خدمات چمتو کړي. دغه پروګرام د کډوالو د ګټو د بکسې یوه کوچنۍ برخه جوړوي. د هرکلي او ځای پر ځای کولو له پروګرام پرته چې د متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت له لوري اداره کیږي، د کډوالۍ د ځانګړو ویزو ترلاسه کوونکي مستحق دي چې د روغتیا او بشري سرچینو د ډیپارټمنټ د کډوالو د بیا مېشتېدنې دفتر له لارې تر اتو میاشتو پورې د نغدو پیسو او طبي مرسته ترلاسه کړي. د کډوالو د بیامېشتېدنې دفتر ORR په مالي مرسته ګټې د بهرنیو چارو وزارت له ګټو پرته دي. د کډوالو د بیامېشتېدنې دفتر په مالي مرسته ګټو په اړه لا زیات معلومات دلته د کډوالو د بیامېشتېدنې دفتر په وېبپاڼه کې موندلی شئ.

پوښتنه: د متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت ګټو او د کډوالو د بیامېشتېدنې دفتر د ګټو تر منځ توپیر څه دی؟ ایا دا دواړه د یوې بکسې/ پیکج برخه دي؟

ځواب: د متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت تر اداري لاندې د هرکلي او ځای پر ځای کولو پروګرام او د کډوالو د بیامېشتېدنې دفتر تر اداري لاندې د نغدو پیسو او طبي مرستې (CMA) پروګرام، دوه جلا پروګرامونه دي، چې د متحده ایالتونو د دوو مختلفو حکومتي ادارو له لوري پر مخ بیول کیږي. د کډوالۍ د ځانګړې ویزې SIV ترلاسه کوونکي ښایي د متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت د هرکلي او ځای پر ځای کولو پروګرام کې، متحده ایالتونو ته له رارسېدلو څخه مخکې یا وروسته نوملیکنه وکړي. د هرکلي او ځای پر ځای کولو پروګرام کې نوملیکنه د کډوالو د بیامېشتېدنې دفتر د نغدو پیسو او طبي مرستې په پروګرام کې پر اتومات نوملیکنه نه تمامیږي. د نغدو پیسو او طبي مرستې پروګرام د فردي ایالتونو له لوري اداره کیږي او افراد کولای شي چې متحده ایالتونو ته په رارسېدلو یې غوښتنه وکړي، د دې په پام کې نیولو پرته چې د متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت د هرکلي او ځای پر ځای کولو پروګرام کې یې نوملیکنه کړې وي یا نه وي.

د کډوالۍ د ځانګړې ویزې هغه ترلاسه کوونکي چې د متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت د هرکلي او ځای پر ځای کولو پروګرام کې ګډون کول وغواړي، د بیا مېشتېدنې د هغې اداري له لوري سپانسر کیږي، چې د متحده ایالتونو له بهرنیو چارو وزارت سره د همکارۍ تر یوه تړون لاندې د هرکلي او ځای پر ځای کولو پروګرام کې ګډون کوي. سپانسر/ مالي ملاتړ کوونکي اداره، له خپل یوه همکار دفتر سره د کډوالۍ د ځانګړې ویزې د ترلاسه کوونکو د استوګن کولو او د بنسټیزو خدماتو د چمتو کولو مسؤولیت لري، چې کور، لومړني اسباب، خواړه، اړینې جامې، کلتوري خدمات او په متحده ایالتونو کې د ویزې ترلاسه کوونکي د لومړیو ۳۰ – ۹۰ ورځو پر مهال نورو تولنیزو، طبي او کاري خدماتو ته په لاسرسي کې مرسته پکې ګډون لري.

د کډوالو د بیامېشتېدنې دفتر په مالي مرسته ګټې د ایالتونو له لوري اداره کیږي او د ایالت د ګټو د ورکړې ادارو له لوري ورکول کیږي. د کډوالۍ د ځانګړې ویزې ترلاسه کوونکي ښایي متحده ایالتونو ته له رارسېدلو څخه وروسته په هغه ایالت کې د دغو ګټو ترلاسه کولو لپاره غوښتنه وکړي، چې ژوند پکې کوي. د کډوالۍ د ځانګړې ویزې هغه ترلاسه کوونکي چې د متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت د هرکلي او ځای پر ځای کولو پروګرام کې ګډون کول وغواړي، د بیا مېشتېدنې د هغې اداري له لوري به د کډوالو د بیامېشتېدنې دفتر په مالي مرسته ګټو

لپاره په غوښتنه کې ورسره مرسته وشي، چې د هغوی د هرکلي او ځای پر ځای خدمات چمتو کوي. د کډوالۍ د ځانګړې ویزې هغه ترلاسه کوونکي چې د متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت د هرکلي او ځای پر ځای کولو پروګرام کې ګډون کول و نه غواړي، په هغه ایالت کې باید د کډوالو د ایالتي همغږي کوونکي سره په اړیکه نیولو، دغو ګټو لپاره پخپله غوښتنه وکړي، چې هغوی پکې اوسیږي.

**پوښتنه: ایا زه د هرکلي او ځای پر ځای کولو ګټې په اتومات ډول ترلاسه کوم یا یې باید غوښتنه وکړم؟**

ځواب: د بیا مېشتېدنې ګټې په اتومات ډول نه ترلاسه کېږي. د کډوالۍ د ځانګړې ویزې غوښتونکي باید، ژر تر ژره د بیا مېشتېدنې د ګټو د ټاکنې فورمې او د DS-0234 بایو ډاټا فورمې په ډکولو او د ویزې ملي مرکز یا د بیا مېشتېدنې د ملاتړ مناسب مرکز یا متحده ایالتونو ته له رارسېدلو وروسته د بیا مېشتېدنې تر ټولو نږدې مرکز ته په سپارلو، د متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت د هرکلي او ځای پر ځای کولو پروګرام کې د ګډون کولو اراده وښيي.

**پوښتنه: څه به وشي که چېرې زه په عاجل ډول سفر کولو ته اړ شم او و نه کړای شم چې د کډوالۍ د نړیوالې ادارې له لارې د سفر ترتیبات ونیسم؟**

په ځینو ځانګړو شرایطو کې، تاسو ښایي د هرکلي او ځای پر ځای کولو پروګرام کې د ګډون د ارادې ښودلو لپاره وخت و نه لرئ. که چېرې تاسو وغواړئ چې خپل پرواز پخپله ترتیب کړئ، تاسو لا هم ښایي د بهرنیو چارو وزارت د بیا مېشتېدنې د ګټو، یا د روغتیا او بشري سرچینو د ډیپارټمنټ د کډوالو د بیا مېشتېدنې دفتر (ORR) په مالي ملاتړ د ګټو، مستحق یاست. **<u>د دې معلوموملو لپاره چې ایا تاسې ورته په شرایطو برابر یاست، لطفا متحده ایالتونو ته له رارسېدلو څخه وروسته ژر تر ژره د بیا مېشتېدنې له همکارانو سره اړیکه ونیسئ ځکه چې ستاسو مستحق کېدنه محدود وخت لري</u>**. مونږ درته سپارښتنه کوو، چې د بیا مېشتېدنې له یوه همکار سره له رارسېدنې وروسته په ۳۰ ورځو کې دننه اړیکه ونیسئ. د بیا مېشتېدنې د همکارانو د یوه لست لپاره، لطفا دغې پتې [SIV@wrapsnet.org](mailto:SIV@wrapsnet.org) ته برېښنالیک واستوئ.

**پوښتنه: زه څه ډول د سفر پور ترلاسه کولی شم؟**

ځواب: د کډوالۍ د ځانګړې ویزې یوازې هغه ترلاسه کوونکي، چې د هرکلي او ځای پر ځای کولو پروګرام کې ګډون کول وغواړي، په داسې حال کې چې لا هم له هېواده بیرون وي، د سفر لپاره د پور ترلاسه کولو مستحق دي څو متحده ایالاتو ته د خپل ترانسپورټ لګښتونه ورکړي. د سفر د پور ترلاسه کولو لپاره د کډوالۍ د ځانګړې ویزې ترلاسه کوونکي باید د کډوالۍ د نړیوالې ادارې له لورې په ترتیب شوي پرواز کې سفر وکړي. د کډوالۍ نړیواله اداره د هر فرد د سفر پور چمتو کوي او متحده ایالتونو ته یې سفر ترتیبوي.

**پوښتنه: د سفر د پور د بېرته ادایني شرایط څه دي او د سود کچه یې څومره ده؟**

ځواب: د سفر پر پور سود نشته. په عمومي ډول، د پور بېرته اداینه له رارسېدلو څخه وروسته په شپږو میاشتو کې دننه پیلیږي او په ۴۲ میاشتو کې باید په بشپړ ډول ادا شي. ترلاسه کوونکی باید په میاشتیني ډول خپل پور په هغه توګه ادا کړي چې د پور په یاددښت کې مخکې له مخکې ټاکل شوی وي. میاشتینۍ ادایني باید د مېشتولو هغې ادارې ته واستول شي چې د پور په یاددښت کې ټاکل شوې وي. د سفر د پور بېرته اداینه په متحده ایالتونو کې د یوه فرد په اعتبار جوړونه کې رول لوبوي او د کډوالۍ نړیواله اداره یا **د بهرنیو چارو وزارت** د پور د بېرته ادایني د عملي کولو له نورو اقداماتو څخه ژغوري.

**پوښتنه: که چېرې زه وغواړم چې د هرکلي او ځای پر ځای کولو په پروګرام کې ګډون وکړم، د بیا مېشتېدنې د ګټو لپاره به زما غوښتنلیک څوک پر مخ یوسي؟**

ځواب: د ۲۰۲۰ کال له اپریل وروسته، هغه اداره چې ستاسو د بهرنیو چارو وزارت د ګټو د پروسس کولو مسؤولیت په غاړه ولري، ستاسو د ویزې د خپرېدلو د موقعیت له مخې به وي. که چېرې تاسو یو عراقی غوښتونکی یاست او ویزه مو په ترکیه یا لبنان کې د متحده ایالتونو د سفارت له لورې پروسس کیږي، ګټو لپاره ستاسو غوښتنلیک به د ترکیې په استانبول کې د ډیپارټمنټ په مالي ملاتړ د بیا مېشتېدنې د ملاتړ مرکز RSC له لورې پروسس شي. که چېرې تاسې یو عراقی یا افغان غوښتونکی یاست او ویزه مو د متحده ایالتونو په کوم بل سفارت کې پروسس کیږي، د بیا مېشتېدنې د ګټو لپاره ستاسو غوښتنلیک به د اردن په مرکز عمان کې د بیا مېشتېدنې د ملاتړ مرکز له لورې پروسس شي.

**پوښتنه: څه وخت باید زه خپل ملکیت/ جایداد وپلورم او/ یا خپله دنده پرېږدم؟**

ځواب: یو غوښتونکی باید تر هغه مهاله خپل ملکیت/ جایداد و نه پلوري یا دنده پرېنږدي، چې د متحده ایالتونو سفارت یا قونسلګرۍ ورته ویزه ورکړې نه وي یا د سفر ترتیباتو لپاره د کډوالۍ نړیوالې ادارې ته راجع شوی نه وي.

**پوښتنه: د اوسېدنې پر بنسټیزه مرسته کې څه شی چمتو کیږي؟ ایا په دې کې کور او خواړه ګډون لري؟**

ځواب: د بیا مېشتېدنې هغه اداري چې د بهرنیو چارو وزارت د هرکلي او ځای پر ځای کولو پروګرام کې ګډون کوي، باید له رارسېدلو څخه وروسته لومړۍ میاشتې لپاره د بنسټیزو اړتیاوو ملاتړ چمتو کړي. په دې کې تر هغه مهاله کور او خواړه یا د خوړو پیسې ګډون لري چې د کډوالۍ د ځانګړې ویزې ترلاسه کوونکی د مرستې نورو ډولونو (د نغدو پیسو مرستې او خوړو) ته لاسرسی پیدا کړي.

**پوښتنه: ایا د لومړیو ۳۰ ورځو لپاره چمتو شوې د اوسېدنې بنسټیزه مرسته هم پور دی؟**

ځواب: نه. د هرکلي او ځای پر ځای کولو پروګرام د بیا مېشتولو هغې ادارې ته پیسې چمتو کوي چې د کډوالۍ د ځانګړې ویزې ګټه وړونکي سره مرستې لپاره ټاکل شوي وي. دغه پیسې باید د کرایې د اداینې په ګډون د اړینو توکو د چمتو کولو لپاره وکارول شي.

**پوښتنه: که چېرې زه وغواړم چې د هرکلي او ځای پر ځای کولو په پروګرام کې ګډون وکړم، د کور څه ډول مرسته به راسره وشي؟ ایا زه به اړ یم چې په یوه تعمیر کې له نورو کډوالو سره یو ځای واوسېږم؟**

ځواب: کور د موقعیت له مخې توپیر لري. په عمومي ډول، چمتو شوی کور یو مناسب اپارتمان وي، چې د محلي ټولنې د نورو غړو له لورې په بسپنه کې ورکړل شوو توکو باندې سنبال وي. د کډوالۍ د ځانګړو ویزو ترلاسه کوونکي په عادي ډول په داسې اپارتمانونو کې اوسیږي، چې د مختلفو نژادونو، ملیتونو، کلتورونو، مذهبونو او ټولنیز – اقتصادي شالیدونو درلودونکي وي.

**پوښتنه: که چېرې زه و*نه* غواړم چې د هرکلي او ځای پر ځای کولو په پروګرام کې ګډون وکړم، ایا زه کولای شم چې د ټولنیز امنیت کارټ لپاره په یوه دفتر کې له مرستې پرته غوښتنه وکړم؟**

ځواب: د کډوالۍ د ځانګړې ویزې ترلاسه کوونکی ښایي د ټولنیز امنیت د ادارې په ساحوي دفتر کې له کومې مرستې پرته د ټولنیز امنیت د کارټ لپاره غوښتنه وکړي. لطفا دلته کلیک کړئ څو وپوهېږئ چې د ټولنیز امنیت د ادارې تر ټولو نږدې ساحوي دفتر چېرې موقعیت لري.

د کډوالۍ د ځانګړې ویزې هغه غوښتونکي چې د DS-260 پر خپله فورمه (د کډوال د ویزې بریښنایي غوښتنه) د ټولنیز امنیت د کارټ غوښتنه کوي، د پوست له لارې به د ټولنیز امنیت کارټ ترلاسه کړي. کارټ به د هغوی

له لورې په DS-260 فورمه کې چمتو شوې پټې ته، متحده ایالتونو ته له رارسېدلو سمدستي وروسته، واستول شي.

**پوښتنه: که چېرې زه و *نه* غواړم چې د هرکلي او ځای پر ځای کولو په پروګرام کې ګډون وکړم، ایا زه به اجازه ولرم چې یوه محلي ډاکټر ته ورشم او د کډوالو د بیامېشتېدني دفتر له لورې یې اداینه وشي؟**

ځواب: نه. یو فرد باید د کډوالو د بیامېشتېدني دفتر په مالي ملاتړ طبي ګټو لپاره غوښتنه وکړي چې د کډوالو طبي مرسته (RMA) یې بولي او مستحق وګڼل شي څو د هر ډول طبي درملنې لپاره یې د کډوالو د بیامېشتېدني دفتر ادراینه وکړي.

**پوښتنه: متحده ایالتونو ته له رارسېدلو وروسته د کډوالو د بیامېشتېدني دفتر څخه د مرستې ترلاسه کول څومره وخت نیسي؟**

ځواب: د غوښتنلیک د پروسس کولو وخت له یوه ایالت څخه په بل کې توپیر لري. یو فرد کولای شي چې په هغه ایالت کې د ګټو لپاره په غوښتنه کولو سره د کډوالو د بیامېشتېدني دفتر ګټو ته لاسرسی پیدا کړي، چې هغه پکې اوسیږي. د کډوالو د بیامېشتېدني دفتر به په هغه ایالت کې، چې هغه پکې اوسیږي، ورته یوه اړیکه چمتو کړي چې هغه/ هغې ته د دې معلوماتو په ورکولو مرسته ورسره وکړي، چې د کډوالو د بیامېشتېدني دفتر ګټو لپاره چېرته غوښتنه کولی شي.

**پوښتنه: ایا زه کولای شم چې متحده ایالتونو ته له رارسېدلو سره سم د کډوالو د بیامېشتېدني دفتر د ګټو او خدماتو لپاره غوښتنه وکړم؟**

ځواب: هو. د قانون له مخې مستحق کېدنه محدود وخت لري. له دې امله، وګړي باید متحده ایالتونو ته له رارسېدلو څخه سمدستي وروسته د کډوالو د بیامېشتېدني دفتر ګټو او خدماتو غوښتنه وکړي.

**پوښتنه: زه غواړم چې په یوه ځانګړي ښار یا ایالت کې مېشت شم. زه باید څه وکړم؟**

ځواب: له هېواده بیرون د کډوالی د ځانګړې ویزې هغه ترلاسه کوونکي، چې په R&P پروګرام کې د ګډون کولو اراده لري، دوه انتخابه لري د کومو په واسطه یې چې په متحده آیالاتو کې د اوسېدو ځای معلومېږي.

تاسې کولی شئ یوې نمایندګۍ ته واک ورکړئ ترڅو ستاسې د پیژندګلوۍ معلوماتو او کورنۍ او همدارنګه د اوسېدو مصارفو، د میشت ځایونو د شته والي، کاري فرصتونو او د بیا میشتېدنې د قوي خدمتونو او ملاتړ په نظر کې نیولو سره ستاسې لپاره یو موقعیت غوره کړي. نوموړې نمایندګۍ د بیا میشتېدو لپاره د مناسبو موقعیتونو په پیدا کولو کې ډېر معلومات او تجربه لري چې له تاسې سره په متحده ایالاتو کې په بریالي ډول میشتېدلو کې مرسته کوي.

که چېرې تاسو د متحده ایالتونو په نورو ښارونو کې ملګري یا د کورنۍ غړي (په متحده ایالتونو کې اړیکه) لرئ، کولای شئ چې د بیامیشتېدو لپاره نوموړي موقعیتونه وټاکئ؛ مګر د نوموړو ځایونو د اوسېدو مصارفو او د میشت ځایونو د شتوالي په اړه یوهه ډېره اړینه ده. د مهربانۍ له مخې په یاد ولرئ چې کله تاسې د یوشخص سره نږدې اوسېدل غوره کړئ، نو هر وخت ددې امکان نه وي چې تاسې ته دې هغوی سره د نږدې اوسېدلو فرصت برابر شي، په دې صورت کې له تاسې څخه په جدي ډول غوښتل کېږي چې د موقعیت د غوره کولو پرمهال نور عوامل، په ځانګړي ډول د میشت ځایونو شتوالی په پام کې ونیسئ. د هیواد په ځینو برخو لکه ساکرامینټو او شمالي ورجینیا کې میشت ځایونه ډېر قیمته او محدود دي. ځینې وختونه اړینه وي چې د هوټلونو په ګډون په موقتي ځایونو کې میشت شئ.

غوښتونکی باید دغه معلومات د DS-0234 د کډوالی د ځانګړې ویزې د بایو ډاټا فورمې "په متحده ایالتونو کې اړیکې" (U.S. Ties) تر برخې لاندې ولیکې. که چیرې یو غوښتونکی/ عارض په متحده ایالتونو کې اړیکه لري، هغه باید د هغه شخص بشپړ نوم، پته، ټلیفون شمېره او بریښنالیک پته او له هغه/ هغې سره د اړیکې څرنګوالی (لکه مور، لور، ورور، او داسې نور) چمتو کړي. که چیرې له یوه شخص څخه ډېر وړاندې شي او هغوی په مختلفو ځایونو کې اوسیږي، غوښتونکي باید د لومړیتوب په ترتیب سره ولیکي. د مهربانۍ له مخې په یاد ولرئ چې نوموړی شخص باید دمګړی په متحده ایالتونو کې اوسیږي (نه دا چې په بل هېواد کې ژوند او کار کوي) او باید لیوالتیا ولري چې د غوښتونکي/ عارض پر قضیه د بیا مېشتېدنې له یوې ادارې سره خبرې وکړي.

**پوښتنه: په ساکرامینټو او شمالي ویرجینیا کې د اوسېدو چاپېریال څه ډول دی؟ د متحده ایالاتو په مختلفو ځایونو کې د اوسېدو مصارفو په اړه معلومات څه ډول په لاس راوړلی شم؟**

ځواب: <u>*ساکرامینټو (د Elk Grove، Yuba City، North Highlands او Carmichael او داسې نورو ځایونو په ګډون):*</u> د مهاجرت د ځانګړو ویزو درلودونکو د زیات شمېر د رارسېدو او د محدودو مېشت ځایونو د موجودیت له کبله، د مهربانۍ له مخې په یاد ولرئ چې دمګړی په ساکرامینټو کې د بیا مېشتېدنې چاپېریال ډېر ننګوونکی دی. د مهاجرت د ځانګړو ویزو درلودونکي چې په دې وروستیو کې راغلي، د څو اونیو یا میاشتو لپاره په هوټلونو کې اوسېږي تر هغې چې د دایمي مېشتېدنې ځای یې معلوم شي. دا چې د مېشتېدو د مناسبو ځایونو موجودیت خورا محدود دی، نو له همدې امله کېدی شي چې په متحده ایالاتو کې له اړیکه لرونکي شخص څخه ډېر لرې ځای پر ځای شئ. <u>د مېشت ځایونو د خورا کمښت له امله یوازې هغه لنډمهاله او دایمي خلک چې د اصلي عریضه کوونکي/غوښتونکي (PA) سره لاندې اړیکه ولري یا خپله PA به د ساکرامینټو په منطقه کې مېشت شي: د ژوند ملګری/ملګرې، والدین، ماشوم او خور یا ورور.</u> نورې اړیکې هغه وخت د منلو وړ ګرځي چې که چیرې PA د 18 کلونو څخه کم عمره ماشوم وي او په متحده ایالاتو کې نور خپلوان نلري.

<u>*شمالي ویرجینیا (د Alexandria، Falls Church، Arlington، Manassas، Stafford، Woodbridge، Dale City، Fairfax، Fredericksburg او داسې نورو ځایونو په ګډون):*</u> د شمالي ویرجینیا لویه منطقه هم د مېشت ځایونو له خورا کمښت سره مخ ده. **د مېشت ځایونو د نشتوالي له امله سپارښتنه کېږي چې یوازې هغه خلک په دې منطقه کې مېشت شي چې د خپلې کورنۍ له نږدې خپلوانو سره یوځای کېږي.** هغه خلک چې په شمالي ویرجینیا کې د اوسېدلو پرېکړه کوي او نشي کولی چې په متحده ایالاتو کې د خپل اړیکه لرونکي شخص سره واوسېږي، نو په دې صورت کې به په هوټل یا بل موقتي مېشت ځای کې ځای پر ځای شي.

د ځانګړو ویزو لرونکو خلکو لپاره یو ګټور ویب سایټ د اوسېدو د تنخواو محاسبه کوونکی ( Living Wage Calculator) ویب سایټ دی چې د اوسېدو مصرف، مصارف او تنخواو په اړه معلومات چمتو کوي: https://livingwage.mit.edu/

**پوښتنه: زه به څه ډول وپوهېږم چې کومه اداره د خدماتو چمتو کولو مسؤولیت لري؟**

ځواب: که چیرې د کډوالۍ د ځانګړې ویزې غوښتونکی په بیروني هېواد کې وغواړي چې د هرکلي او ځای پر ځای کېدنې په پروګرام کې ګډون وکړي، متحده ایالتونو ته له ورتګ څخه مخکې به د غوښتونکي قضیه د بیا مېشتېدنې یوې ادارې ته ورکړل شي. له ورتګ څخه مخکې، د هرکلي او ځای پر ځای کولو د ګټو لپاره د غوښتونکي د قضیې د پروسس کولو مسؤوله اداره – د بیا مېشتېدنې د ملاتړ مرکز – به غوښتونکي ته د همکار دفتر په اړه معلومات چمتو کړي، چې له رارسېدلو سره به خدمات چمتو کړي.

**پوښتنه: ایا داسې څوک شته چې د کډوالۍ د ځانګړو ویزو د مېشتېدنې د ګټو او له رارسېدلو وروسته خدماتو په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره ورسره اړیکه ونیسم؟**

ځواب: د کډوالی د ځانګړو ویزو ترلاسه کوونکو له رارسېدلو وروسته د ګټو د پروګرام په اړه لا زیاتي پوښتني په دې پته SIV@wrapsnet.org د کډوالو د پروسس کولو مرکز ته بایدراجع شي.

**پوښتنه: په متحده ایالتونو کي د ژوند په اړه لا زیات معلومات چېرې ترلاسه کولی شم او هلته په رسېدلو د څه شي تمه ولرم؟**

ځواب: د کلتوري لور موندني د سرچينو تبادله The Cultural Orientation Resource Exchange داسي کلتوري معلومات لري، چي په متحده ایالتونو کي ستاسو د ژوند پیلولو لپاره ښایي درته ګټور وي او په دي پته موندل کيږي. https://coresourceexchange.org/refugee-resources/

غوښتونکي هڅول کيږي چي دغه ویډیوګاني ووینې، چي د کډوالی د ځانګړې ویزې غوښتونکو لپاره چمتو شوي دي، چي په متحده ایالتونو کي استوګن کيږي:
https://coresourceexchange.org/refugee-stories/

په متحده ایالتونو کي د ژوند په اړه لا زیاتو معلوماتو لپاره www.corenav.org ته مراجعه وکړئ:

**پوښتنه: د متحده ایالتونو د کډوالو د بیا مېشتېدني اداري څوک دي چي د هرکلي او ځای پر ځای کېدني خدمات چمتو کوي؟**

ځواب: د بیا مېشتېدني ډېرې اداري موجودې دي، چي د متحده ایالتونو له بهرنیو چارو وزارت سره د همکارۍ د یوه تړون له مخي د هرکلي او ځای پر ځای کولو په پروګرام کي ګډون کوي. دغه اداري په متحده ایالتونو کي د هرکلي او ځای پر ځای کولو همکار دفترونه لري. د بیا مېشتېدني د ادارو په اړه لا زیاتو معلوماتو لپاره، لطفا د هغوي وېبپاڼي ووینئ، چي لاندې يې لست چمتو شوی دی:

د کلیسا نړیوال خدمت (CWS)
www.churchworldservice.org

Episcopal Migration Ministries(EMM)
www.episcopalchurch.org

د ایتوپیا د ټولني د ودې شورا (ECDC)
www.ecdcus.org

HIAS
www.hias.org

د نجات نړیواله کمېټه (IRC)
www.rescue.org

لوترن د مهاجرو او کډوالی خدمت (LIRS)
www.lirs.org

مهاجرو او کډوالو لپاره د متحده ایالتونو کمېټه (USCRI)
www.refugees.org

د متحده ایالتونو د کاتولیکي راهبانو کانفرانس (USCCB)
www.usccb.org/mrs

نړیواله مرسته (WR)
www.wr.org

**پوښتنه: د هرکلي او ځای پر ځای کولو پروګرام داسې څه چمتو کوي چې امریکایي ملګری/ همکار یې نه شي کولی؟**

ځواب: د مېشتېدنې محلي اداري، نویو راتلونکو لپاره ډېره پوهه او تجربه چمتو کوي څو په محلي ټولنو کې مدغم شي. په ډېرو حالتونو کې، دا ګڼ – خدماتي اداري دي، چې محلي پروګرامونو او سرچینو ته په اسانه لاسرسي کې له مراجعینو سره مرسته کولی شي. هغوي له ملګرو او خپلوانو سره په شریکبانۍ کې تجربه لري څو د بیا مېشتېدنې ملاتړ وکړي او څنګه چې مناسبه او اړینه وي، له مراجعینو سره مرسته وکړي. هغوي همدا راز کولای شي چې نویو راتلونکو افرادو لپاره اضافي ملاتړ چمتو کړي که چېرې د نه وړاندوینې وړ حالات د بیا مېشتېدنې بوج ډېر ستونزمن کړي.

**پوښتنه: څه ډول د کډوالی د ځانګړې ویزې لپاره غوښتنه وکړم؟**

ځواب: د کډوالی د ځانګړې ویزې پروګرام لپاره د مستحق کېدنې او غوښتنلیک معلومات په دې پته موندلی شئ: https://travel.state.gov

- عراقي او افغان ژباړونکو لپاره د کډوالی د ځانګړې ویزې پروګرام په اړه ځانګړي معلومات په دې پته موندلی شئ: https://travel.state.gov/content/travel/en/us-visas/immigrate/siv-iraqi-afghan-translators-interpreters.html
- د متحده ایالتونو د حکومت له لوري ګومارل شوو یا یې په استازیتوب کارکوونکو عراقیانو لپاره د کډوالی د ځانګړې ویزې پروګرام په اړه ځانګړي معلومات په دې پته موندلی شئ: https://travel.state.gov/content/travel/en/us-visas/immigrate/special-immg-visas-iraqis-employed-us-gov.html
- د متحده ایالتونو د حکومت له لوري ګومارل شوو یا یې په استازیتوب کارکوونکو افغانانو لپاره د کډوالی د ځانګړې ویزې پروګرام په اړه ځانګړي معلومات په دې پته موندلی شئ: https://travel.state.gov/content/travel/en/us-visas/immigrate/special-immg-visa-afghans-employed-us-gov.html#top
- د نبراسکا خدماتي مرکز سره د I-360 عریضو ډکولو په اړه اضافي پوښتنو لپاره، په دغه پته برېښنالیک استولی شئ: SIVTranslator.NSC@dhs.gov

**پوښتنه: ما د کډوالی د ځانګړې ویزې غوښتنه کړې ده، د خپلې غوښتنې حالت څه ډول معلوم کړم؟**

ځواب: هغه افراد چې د کډوالی د ځانګړې ویزې د عریضې لپاره د لاربښوونو او اړتیا وړ موادو په اړه پوښتنې لري، باید د کورني امنیت له ډیپارټمنټ (DHS) سره په دې پته SIVTranslator.NSC@dhs.gov اړیکه ونیسي. کله چې یوه تصدیق شوې عریضه د ویزې ملي مرکز ته ورسیږي، غوښتونکي ته به د برېښنالیک له لارې

مشوره ورکړل شي او لارښوونې به ورته وشي. هغه افراد چې له تصدیق وروسته د کډوالۍ د ځانګړې ویزې د خپلې عریضې په اړه پوښتنې لري، د ویزې ملي مرکز سره په دې پته NVCInquiry@state.gov یا 1-603-334-0700 په مستقیم ډول اړیکه نیولی شي. د ویزې په ملي مرکز کې د مراجعینو د خدماتو استازي د سهار له ۷:۳۰ بجو څخه تر نیمې شپې پورې موجود وي.

**پوښتنه: زه لا دمخه USRAP ته راجع شوی یم یا د یوه کډوال په حیث راسره مرکه شوې ده، خو زه د کډوالو ځانګړې ویزې لپاره هم وړ یم. زه باید کوم غوښتنلیک تعقیب کړم؟**

ځواب: دا د هر فرد خپله پرېکړه ده، چې له دوو پروګرامونو څخه کوم یو تعقیبوي. د دواړو پروسو بشپړېدل ډېرې میاشتې وخت اخلي. هر پروګرام لپاره نوملیکنه او غوښتنلیک، متحده ایالتونو ته د خامخا ورتګ تضمین نه کوي. غوښتونکي کولای شي چې په یوه وخت دواړه غوښتنلیکونه تعقیب کړي. د پروسې او مستحق کېدنې له مخې، کډوال او د کډوالۍ د ځانګړې ویزې پروګرامونه توپیر لري.

**پوښتنه: څه به پېښ شي که چېرې یو شخص لا د مخه د ملګرو ملتونو د کډوالو چارو ادارې UNHCR یا د ملګرو ملتونو سره دوسیه ولري؟ هغوي باید څه وکړي؟**

ځواب: هغه غوښتونکي چې د کډوالۍ د ځانګړې ویزې د مستحق کېدو شرایط پوره کوي، کولای شي چې غوښتنه وکړي، آن که هغوي د ملګرو ملتونو د کډوالو چارو ادارې سره ثبت وي یا له USRAP سره یې غوښتنلیک هم پروت وي.

**پوښتنه: که چېرې په متحده ایالتونو کې ومنل شم، ایا زه به د متحده ایالتونو تابعیت ترلاسه کړم؟ که داسې وي، څومره وخت به ونیسي؟**

ځواب: د کډوالۍ د ځانګړې ویزې ترلاسه کوونکي، متحده ایالتونو ته په داخلېدلو سره قانوني دایمي استوګنه ترلاسه کوي. کله چې ومنل/ داخل شي، د کډوالۍ د ځانګړې ویزې ترلاسه کوونکي په متحده ایالتونو کې له پنځه کاله اوسېدنې وروسته د متحده ایالتونو د تابعیت غوښتنې مستحق ګرځي.